برای ایجاد تفاهم بیشتر به مذاکرات بیشتر و مخصوصا به دیدار رویا روی میان احمد شاه مسعود و گلبدین حکمتیار ضرورت است (داکتر فاروق اعظم)

هیئت کمیسیون صلح بریاست داکتر فاروق اعظم عازم کابل شد

PROPERTY OF ACKU

هفته نامهء
اتحاد اسلامی
بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

قرار اطلاعات واصله از جلال آباد داکتر فاروق اعظم رئیس کمیسیون صلح غرض مساعد نمودن زمینهء دیدار بین احمد شاه مسعود و گلبدین حکمتیار عازم کابل گردید .

داکتر فاروق اعظم قبل از ص(٦)

برای جلوگیری از گسترش دامنهء جهاد در تاجکستان

ملل متحد تاکنون سه هزار نفر از مهاجرین تاجیك را از افغانستان به تاجکستان باز گردانیده است .

یك نطاق سازمان ملل متحد مدعی شد که از هزاران نفرمهاجر تاجیك که در اثر جنگ به افغانستان پناهنده شده بودند سه هزار نفر آنان تحت نظارت مقامات سازمان ملل متحد از افغانستان به تاجکستان باز گردانیده شده اند قرار ادعای نطاق مذکور تعداد بیشتری نیز بدون رابطه با سازمان ملل خود به خواهش خویش به کشور خود باز گشته اند .

قابل تذکر است که کشورهای غربی و روسیه از موجودیت مهاجرین تاجك در خاك افغانستان سخت تشویش دارند زیرا می ترسند که این مهاجرین از طریق مجاهدین افغان مسلح گردیده و غرض جنگ به تاجکستان بر گردند .

شمارهء مسلسل «٢٩٤» سال نهم شمارهء «٥٤» پنجشنبه (٢٠) جوزای ١٣٧٢ هـ ش (٢٠)ذي الحجه ١٤١٣هـ ق (١٠)جون١٩٩٣م (قیمت فی شماره یك کلدار یا پنجاه افغانی)

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

دایمی اور بند دوخت خورا ستر ضرورت

حقیقت دادی چی سیاسی مذاکرات په تیره بیا په هغه وخت کی چی د جنگ د ورانیو په نتیجه کی یی ضرورت محسوس شوی وی نسبی اور بند ته سخت اړتیا لری ، ځکه چی په خپله د مذاکراتو پروسه ددی لپاره پیشنهاد کیږی چی د جنگ اور مړ کړی د زیاتو ورانیو او تلفاتو مخه ونیول شی او په دی توگه د سولی او پخلاینی په فضا کی سیاسی عمل تپاکونکی نقش غوره کړی او تل جاری او ساری وساتل شی ...

زموږ په هیواد کی هم د کمونستی حکومت له پرزیدو وروسته ، کله چی د مجاهدینو حکومت جوړ شو دمجاهدینو حکومت او د ځینو ناراضو ډلو ترمنځ جگړه و نښته چی له بده مرغه دهماغه جنگ لړی لا تراوسه روانه ده او پرته له دی چی د افغانستان یواځینی اباد ښار (کابل) یی په یوه وحشتناکه کنډواله بدل کړی وی دسار مظلوم اوسیدونکی یی په خاورو او وینوکی لړلی وی او زموږ سیاسی او جهادی پرتم یی پر مځکه ویشتلی وی بله نتیجه یی نه ده ورکړی - ددغو ټولو جنگونو په ترځ کی - دسولی هیئتونه - دروغی او جوړی و فدونه - بهرنی دوستان ټول یو ځای او یا په تیت پرك ډول خپلی هڅی کړی او په دی نیت چی په افغانستان کی یو پیاوړی - جهادی مرکزی حکومت جوړ شی په ټول توان سره په دی لاره کی هر ډول ستونځوته سپر شوی دی د افغانستان اسلامی اتحاد تنظیم چی د مجاهدو تنظیمونو په هکله د خپل سیاسی ژوند له پیله همدا موخه او هدف لری چی د هغوی په منځ کی د پیرزوینی ، اخوت ، وحدت او ایثار روحیه راژوندی کړی او په دی ډول په خاصه توگه د جهادی ژوند په دی وروستی پړاوکی یو پیاوړی اسلامی حکومت جوړ شی - ددی هیئتونو او وفدونو ترڅنگ فعاله او نه هیریدونکی ونډه لرلی دی او اوس هم زیار باسی چی :

الف : ددی ټولو ذات البینی شخړو دهواری لپاره د قرآن له حکم سره سم د حق پلوی وشی خلك د حق په خواکی ودریږی او له حق څخه دفاع وشی او دخپلوټولو ستونځو د حل مرجع قرآن سنت او د مجتهدو علما و او پوهانو نظریات چی پردی دوو اصولو ولاړدی - ومنل شی .

ب : مغرض عناصر او د پردیو گو ډاگیان تل زیار باسی چی د (٦)مخ

د ملگرو ملتو د امنیت شورا دیوی پریکړی په ترځ کی :

باید د پاکستانی پوځیانو قاتلین ونیول شی

نیویارك:

د ملگرو ملتو د امنیت شورا غوښتنه کړی چی په صومالیا کی د ملگرو ملتو په پوځ کی دنده سرته رسوونکی پاکستانی پوځیانو قاتلین دی ونیول شی اوجزا دی ورکړ شی.

خبری آژانسونو ویلی د امنیت شورا ١٥ غړو د پاکستان داوړاندیز تائید کړ چی په هغه کی د سولی پوځ ته د تهانکونو اوالوتکو ورکولو غوښتنه هم شوی وه ، د ملگرو ملتو مشر بطروس غالی د امنیت شورا څخه ددی عمل په باب د اختیاراتو ترلاس ته راوړو وروسته ویلی چی باید د سولی پوځ ټول هغه ضرورتونه خپل ص(٦)

هجوم مهاجرین افغانی بسوی روسیه و ازبکستان

بعداز اینکه سلسله پرواز های مستقیم میان پاکستان و جمهوری های آسیای میانه آغاز گردید سفارت خانه ازبکستان در اسلام آباد صدور ویزه برای توریست های پاکستانی را آغاز کرد که اینك هر هفته دو پرواز طیاره بسوی تاشکند مرکز ازبکستان صورت می گیرد .

اکثر کسانی که با این پرواز ها عازم ازبکستان میشوند مهاجرین افغانی بخصوص کسانی اند که در اثر جنگ های اخیر به پاکستان آمده اند در اثر هجوم افغانها به قیمت تکت و مصارف ویزه افزده ص(٦)

د آذربایجان صدراعظم استعفی ورکړه

نړیوالوخبری آژانسونو رپوټ ورکړ چی د آذربایجان صدر اعظم تر هغی وروسته چی باغیانو د گنجه لوی ښارو نیوه استعفی ورکړه رپوټ زیاتوی : باغیانو پردی سربیره څنی نور ښارونه او د پایتخت مهمی سیمی هم نیولی او ددی ښار د نیولو علت هم دا و چی دولت ددی توان نه درلود چی په ناگورنو قرباغ کی د ارمنیانو مقابله وکړی د باغیانو قوماندان د پوځ یو مشر ؤ چی څو میاشتی وړاندی له کاره گوښه کړای شو رپوټ په پای کی لیکی : تر اوسه معلومه نه ده چی د صدر اعظم استعفی منظوره شوی کنه.

کماندو های ایرانی در افغانستان می جنگند

(ص٤)

از غارت سفارت تا مقام وزارت!

ص (٢)

د بنگله دیش پخوانی جمهور رئیس او میرمنی ته یی داو وه کاله بند سزا واورل شوه

ډاکه :

یوی خاصی محکمی د دوشنبی په ورځ د بنگله دیش پخوانی جمهور رئیس او دهغه میرمن د « جنتاتاور » په دوسیی کی مجرمه وبلله او داووه کال بند سزا یی ورته واوروله جنتا تاور د ښار په یوه تجارتی سیمه کی څوارلس پوړیز تعمیر دی چی په ودانولو یی لس کروړه لگیدلی (٦)مخ

پرون خلقیان - نن مجاهدین !!

کله چی پروسږ کال له ډیرو امیدونو او آرزوګانو سره کابل ته تللم ، نو د درونتهی له بنده نیولی د ماهیپر تر بیخه پوری د سړك پر غاړو چی دمجاهدینو څه پوستی وی - د هری پوستی په څنګ کی د کمونستی رژیم د عسکرو دوه دری مجسمی ولاړی وی چی په یو لاس کی یی د شرابو بوتل و او په بل لاس کی یی یو کمونستی شعار او په غاړو کی یی د مرمیو قطار پروت و دی مجسمو لارویو ته دا تاثر ورکاوه چی د افغانستان په تیرو کمونستی حکومتونو کی کمونستی پوځ د ارول درلوده چی « عیاشی وکړی او خپل ولس ووژنی » او څوك چی داسی کړنلاره ولری د هغه لپاره د ملت په زړه کی لا څه کړی چی په قلمرو کی یی هم ځای ورته نشته !!

د اسلامی حکومت له جوړیدو مخکی همدغه ځنځیریان وو چی د لویو لارو پرغاړو پراته وو او دتالاشی په نامه به یی زموږ نجیب خلك زورول - په ډیره لږه شبهه به یی خلك نیول او جیل ته به یی لیږل ، داسی جیل ته چی د قانون د نشتوالی له لا مله هیڅوك نه پوهیده چی د بندیانو راتلونکی سرنوشت به څه شی ؟!!

ددغو مجسمو په لیدلو سره لږ تر لږه دا هیله می د زړه په کرونده کی وټوکیده چی که خدای کول نور نو زموږ ولس ددغو ځنځیری سپیانو له مزاحمته خلاص شول او نور به څوك د مسلمان په نامه نه زورول کیږی څوك به په دی نوم او هغه نوم نه توهینیږی ، نه به تحقیریږی ، نه به غندل کیږی، نور به سپکی سپوری نه آوری او تور سری به یی نه بی عزته کیږی او... لا په دی اندیښنواو فکرونوکی وم چی زموږ دسوارلی موټر ودرید ومی کوت چی پنځوس شپیته عرادی موټرونه کتار ولاړدی او دهریوه ډریور د خپل موټر تلاشی ته منتظر دی !! له چانه می وپوښتل : دا تلاشی د څه لپاره ده؟ هغه په ځواب کی راته وویل : مجاهدین دی له موټرونه حق العبور آخلی !! او داهم گوری چی کوم مشکوك سړی دی خوا او هغه خوا نشی !!! ما ورته وویل : حق العبور د څه لپاره او بیا دومره زیات !! اومشکوك کسان خو ټول مجاهدینوته ورغلی دی او عمومی عفو ورته شوی ، نور نو کوم

(٦)مخ

رئیس اداره ائتلافی و صدراعظم حکومت اسلامی!!

ارگان نشراتی یك تنظیم یا تشکل سیاسی، زبان آن تنظیم بشمار می آید. هر تنظیم سیاسی از راه منعکس ساختن نظرات خویش در جامعه تلاش میورزد تا دامنهء نفوذ خود را در میان مردم وسعت و گسترش بخشد. اورگان نشراتی تنظیم درین رابطه نقش اساسی به عهده دارد.

انعکاس موضع گیری های یك تنظیم در ارگان نشراتی آن، تنها بدرد امروز و جریانات فعلی نمیخورد بلکه هر سطر آن ثبت تاریخ میشود ونسل های آینده وقتی کلکسیون نشریه آن تنظیم را میکشایند، در مورد گذشته به قضاوت مینشینند.

شهادت ارگان نشراتی حزب اسلامی بخاطر موضعگیری های ضد ونقیض خویش موضوع مطایبه و مزاح در میان کسانی است که جریانات را با چشم باز تعقیب میکنند و دل من بحال نسل آینده میسوزد که اگر روزگاری کلکسیون شهادت بخصوص دوران یکسال بعد از سقوط نجیب را بکشاید، چقدر برتناقض گویی اجداد (غیور و روس شکن) خویش خواهد گریست!!

اگر بخواهیم ضد و نقیض گوئی های شهادت را از سقوط رژیم نجیب تا امروز فقط با جملات کوتاه نشاندهی کنیم، حاصل کار ما از حوصلهء این مقال بیرون خواهد بود وفعلاً با این امید و آرزو که آینده گان را حوصله فراختر و شرایط مساعد تر باشد تا این مهم را به انجام رسانند، کار تفصیلی را به نسل هنوز به میدان نیامده حواله میدهیم وخود فقط به نگاه اجمالی به نبشته های چند شمارهء اخیر شهادت بعد از امضای موافقتنامهء اسلام آباد و جلال آباد اکتفا میکنیم.

در مذاکرات اسلام آباد، حزب اسلامی بر خلاف تمایل دومتحد دیگر خویش، با نمایشی از سعهء صدر، ریاست جمهوری استاد ربانی را برای یکنیم سال آینده پذیرفت و متحدین خود را هم به قبول آن طرح ترغیب نمود در حالیکه قبلاً استاد ربانی را رئیس اداره ائتلافی کابل میخواند. البته مجددی صاحب بعداً تصریح نمود که او از ابتدا با قبول ریاست جمهوری استاد ربانی برای یکنیم سال آینده مخالف بود ولی در اثر اصرار حکمتیار آنرا پذیرفت. اعتراض مجددی به شکوهء پیری شبیه بود که از دست مرید حرف ناشنوی سرداده میشد!

بهر حال: حکمتیار ریاست جمهوری استاد ربانی را برسمیت شناخت ولی ارگان نشراتی حزب هنوز هم بر همان طبل کهنه میکوید! رئیس ادارهء ائتلافی... نیرو های

ص(۵)

مجددی صاحب بعداً تصریح نمود که او از ابتدا با قبول ریاست جمهوری استاد ربانی برای یکنیم سال آینده مخالف بود ولی در اثر اصرار حکمتیار آنرا پذیرفت. اعتراض مجددی به شکوهء پیری شبیه بود که از دست مرید حرف ناشنوی سرداده میشد!

لیبرال - تکنوکراتان او د هغوی استدلال

له هغی ورځی را په دی خوا چی په افغانستان کی د دوو ایدیالوژیو او نظریو تر منځ اعتقادی جنگ پیل شو بیا تر ننه پوری یوه معلوم الحاله ډله چی په واقعیت کی د افغانستان د خلکو ، تاریخ او اقتصاد ددومره ستونځو، پیښو او وروسته پاتی کیدلو عامل دی، مخکی له دی نه چی سوال قدری هم ورته پیدا شی چی دا خلك ولی جنگیږی؟ څوك دی؟ له کوم ځایه راغلی دی ؟ له دوی سره هم ددی هیواد غم شته که نشته ؟ او . . . . . فقط یوه خبره کوی او هغه دا چی : « ددی ملت سرنوشت باید ، لویه جرگه وټاکی » !!

سوال پیدا کیږی چی ایا دا خلك د کمونستانو په مزاج نه پوهیدل ؟ ایا دوی د کمونیزم له طبیعت سره اشنا نه وو ؟ دوی دا خبره شعوری کوله او که د بل چا له پلوه ورته دیکته کیده ؟ دوی په دی نه پوهیدل چی کمونستان د عمومی رایی او ددوی په اصطلاح د دیموکراسی پر خلاف دا دومره لوی جنگ پر افغانانو تحمیل کړی او هغوی د خلکو د عقایدو او انگیرنو روزل شوی او گمارل شوی دښمنان دی . . . دوی په هر څه پوهیدل خو ددی لپاره چی سبا ددی ملت په څنګ کی ځان هم مطرح کړی دا ډندوری یی ږغولی، ددوی اوتی بوتی پخوا ځکه کوم ځای ونشوای نیولای چی یو خو دوی د ملت به منځ کی په فکری او سیاسی لحاظ تجرید شوی و او له بله پلوه دوی وگړیز او مردمی ځواك نه درلود او مطرح قوت په افغانستان کی مجاهدین او کمونستان و . . .

اما اوس :

په دی شرایطو کی چی زموږ د ځوریدلی ملت فرد ، فرد سولی ته ضرورت لری او د ژوند د ضرورتونو له مخی د انسان په صفت ازادی ، خپلواکی او امنیت غواړی او دا غواړی چی له ډیرو نادودو وروسته یو څو شیبی په ارامه سوچ وکړی ، تر څو وشی کړای خپلی ورانی ویجاړی سره را ټولی‌کړی او د روښانه مستقبل په لور مطمئن گامونه واخلی، ، لیبرال په نوم تکنوکراتان چی په ډیرو سختو حالاتو کی د ملت له څنګ نه وتښتیدل او د خپلو بادارانو سیوری ته ودریدل یو ځل بیا د افغانستان د کشالی په هکله د لویی جرگی ډنډوری ږغوی او په ډیره بی شرمی سره لگیا دی د مجاهدینو پر مشرانو ناروا انتقاونه کوی . . . . ټول ملت یو خوا ته دی او وایی چی ټول مجاهد ځواکونه سره کښینی او د ښه نیت له مخی یوی همشینی فیصلی ته سره ورسیږی او د حکومت اوسنی کشاله دی حل کاندی ، مگر دوی په هماغه خپل پخوانی خبری ټینګ ولاړ دی ، که څه هم دی ته له سره ضرورت نه پیښیږی چی ددوی پر خبرو غور وشی او تبصره پری وشی ، ځکه چی دوی اصلاً له ملی مسایلو سره هیڅ کار نه لری او نه خو هغوی ځان ددی ملت غړی بولی (موږ پخوا اشا ره وکړه چی دوی په ډیرو سختو حالاتو کی دا ملت یواځی پریښود او تری وتښتیدل) خو خبره دلته ده چی هغه قوت باید له نظره ونه غورځول شی چی ددوی

(۵)مخ

از غارت سفارت تا مسند وزارت !

برادر نخستین زمامدار دولت اسلامی که ادعا دارد سلسلهء ولایت و کرامت در خاندان شان قطع نشده است بر خلاف آن پرچمی همه دارایی های سفارت را به غارت برد و از مجموع بیش از صد هزار دالر حساب سفارت در بانك فقط چهل پنج دالر را آنهم بخاطر اینکه اکاونت یا حساب بسته نشود، باقی گذاشت و متباقی را به غارت برد !!

پس از سقوط رژیم کمونستی براساس معاهدهء پشاور کسی درراس کمسیون انتقال قدرت قرار گرفت وممثل دولت اسلامی گردید که قبلاً توسط شورای مشورتی منعقدهء راولپندی بحیث رئیس موقت دولت تعیین گردیده بود .

او در زمان تصدی ریاست موقت دولت و حکومتهای موقت قبلی پست حساس معاونیت صدارت وزارت را به پسران خویش داده بود و در زمان زمامداری دوماهه نیز پسران خویشرا ازین پوست ها محروم نساخت و اضافه بر آن برادر خویش را بحیث مسئول سفارت افغانستان در لندن تعیین نمود .

گرچه اکثر پرچمی ها و خلقی هایی که در سفارت خانه های افغانستان مقیم خارج دارای پست های مهم بودند و پس از پیروزی مجاهدین و تعیین مسئولین جدید از سفارت خانه ها فرار و دارایی آنرا به تاراج نبردند ولی خوش چانسی برادر ممثل دولت درین بود که مسئول قبلی سفارت با آنکه پرچمی بود ولی دزدی نکرد و همه اموال و دارائی سفارت را بشمول حساب پس انداز سفارت تحویل مسئول جدید یعنی برادر ممثل دولت نمود .

با تیره شدن روابط ممثل سابق دولت با رئیس جمهور جدید با آنکه اکثر مقرری های ممثل بحال خود

ص(٦)

ورانی ځلی او ړنگ یادگارونه

تر هغه ځایه چی زما په تاریخی یادښت کی شته زموږ-سیمه او نړی ځلور ځلی تر داسی سیلیو او توپانونو لاندی راغلی ده چی د پښتو او حوادثو په یادولو یی د هر ضمیر ښتن ټکان خوری ، هغه دا چی لومړی د گوبی له بیدیا ځخه راپورته شوی مستبد او سفاک چنگیزخان د اسیا لویی وچی ډېرو هیوادو وچ او لامده وسوزول سره له دی چی د هغه وحشی لښکری زموږ د هیواد (افغانستان) په هره سیمه کی عامی وژنی وکړی او خلک یی په ډله ایزه توگه له تیغه تیر کړل زموږ د هیواد علمی، فکری او فرهنگی غنا او سپما ته یی هم نه هیریدونکی او نه جبرانیدونکی تاوانونه واړول، مورخین په دی هکله لیکی چی بلخ پنځه زره کلن تاریخ لری او په دغه تاریخی اعتبار یو وخت د تمدن په ځلور لاری کی پروت او د ایشیایی او اروپایی تجارانو د راکړی ورکړی مرکز و همدارنگه دا د تمدن ځانگو د علمی ، فکری او فرهنگی موقعیت په لحاظ د سترو پوهانو ، ځیرونکو ، مجتهدینو ، شاعرانو ، ادیبانو او هنرمندانو لوی مرکز او د ټولنی ځای و خو کله چی د چنگیز لښکر زموږ پر هیواد یرغل وکړ د بلخ له ټولو کتابتونو ، مدارسو او خانقاوو ځخه یی کتابونه راټول کړل او د امو سیند ته یی وارتاوه او د بلخ تاریخی ښار ته یی اور واچاوه،هرڅه وسوځیدل،هر څه ړنگ شول، د عظمت ځلی وران او تاریخی یادگارونه ړنگ شول (۶۱۷ هـ ۱۲۲۰ م) وایی چی دبلخ په تاریخی ښار کی تر څو میاشتو پوری اور نه مرکیده او د امو په سیند کی د کتابونو بند جوړ شوی و چی هر چا کولای شوای په هغه باندی په اسانی سره له سینده پوری وځی او د ماوراء النهر خواته ولاړ شی . . لنده دا چی چنگیز او دهغه د کورنی حاکمان د دیرشو کالو په موده کی هغه لوی ښارونه چی په اسیا کی د تمدن، فرهنگ او اسلامی علومو ستر مراکز وو ړنگ کړل او خلک یی په ډیره بیرحمانه توگه په ډله ایزه توگه ووژل ، لویی لویی کتابخانی یی وسوځولی او لرغونی خراسان د جغرافیی په لحاظ د سند تر سواحلو پوری په یوه وحشتناکه کنډواله بدله شو. . . دویم لوی توپان او د بشری نسل ستر آفت د شلمی پیړی په دویمه لسیزه (۱۹۱٤) م (۱۲۹۳)ش کی له سراییو د اوسنی بوسنیا له پایتخته راپورته شو او د اطریش شهزاده فرانتس فردیناند د وژل کیدو د انتقام په پلمه ، لومړی نړیوال جگړه پیل شوه دغی جگړی پنځه کاله دوام وکړ چی په جریان کی یی له بیلو بیلو هیوادو ځخه - کوم چی په دی جنگ کی یی برخه لاره یوولس ملیونه ، یوسل او دوه زره شپږ سوه او دری اتیا (۱۱٫۱۰۲٫۶۸۳) کسان ووژل شول ، پوره ، پوره ښارونه،کلی، قصبی، اقتصادی ، علمی او فرهنگی مرکزونه له منځه ولاړل او نړی د ایرو او کنډوالو په یوه ویروونکی او خوفناك مقام بدل شو. . .

نړیوال په خاصه توگه دردمن بشریت ولیدل چی متعصب عیسویان او پر مادی ارزښتونو مین اروپایان او امریکایان ځرنگه یو پر بل ودانگل او د مادی او نظامی پر لاسیو لپاره یی په ډیره لږه موده کی تقریبا ټوله نړی اور او وینو ته راکاږله . . . .

دریم - لوی آفت چی په بشری نړی راکوز شو هغه وخت و چی لا نړی د لومړی نړیوالی جگړی دوری او خاوری ځانه نه وی څنډلی او غوږونه یی لا له ارام محیط سره نه و اشنا شوی.

دا آفت هغه وخت د بشریت پر سر را کوز شو چی نازی لښکری پر لهستان (اوسنی پولینډ) حمله وکړه (د سپتامبر میاشت کال ۱۹۳۹) په دی نړیوال جنگ کی د لومړی ځل لپاره آتوم بم استعمال شو او نړیوالو ته دا وښودل شو چی نننی انسان د ځان د گټو لپاره دی ته هم تیار دی چی ټوله نړی د نیستی او نابودی بیدیا ته ور تیل وهی- دا بم د امریکا د متحده ایالاتو له خوا د جاپان پر دوو ښارونو (هیرو شیما ۱۹٤۵) او (ناکاساکی ۱۹٤۵) باندی استعمال شو چی په څو ثانیو کی یی په سلگونو زره انسانان له خاورو او ایرو سره برابر شول او جنایتکاره امریکا د نړی پر ورانو ځلو او ړنگو یادگارونو د زبرځواکی نوبت وغږاوه ! ! ! که اوس د اتوم بم موجد ژوندی وای ، نو لیدلی به یی وای چی امریکا د ځومره لږ قیمت په ورکولو سره نن د هغه ستر شیطان د شیطانی ایجاد په وجه پر ټولو

(۵) مخ

قاچاق طفل از پاکستان به امارات عربی

ماجرای زوال ارزشهای اخلاقی در میان بعضی طبقات در کشور های ثروتمند عربی تازگی ندارد و هرکس حتی اگر مدت کوتاهی نیزبه یکی از اینگونه کشورها مسافرت نموده باشد این نکته را درمی یابد که در ان فساد اجتماعی تاچه حد فرهنگ متمدن عرب دست دارد. غرب با یك برنامه ریزی دقیق به رواج فساد اخلاقی درمیان طبقات ثروتمند در جهان عرب دست میزند تا آنانرا با ارزشهای دینی آنان بیگانه ساخته و نسبت به مشکلات مسلمانان در سایر نقاط جهان بی تفاوت سازد. رواج زندگی پرتجمل به شیوهء غربی در میان این مردم ، بازار تجارت غرب را پررونق میسازد.

عجیب اینجاست که در بعضی از این کشور ها گاهی هم تمسك به ارزشهای دینی و اخلاقی بجای اینکه احترام به آن ارزشها موجب گردد، برعکس موجب تضعیف وحتی تحقیر آن ارزشها میگردد.

شخصی که چند سال را در امارات متحدهء عربی سپری نموده است حکایت میکرد که در یك نایت کلپ در امیر نشین (دبی) گروهی زن ومرد غرق در مستی شراب روی ستیژ در حال پایکوبی بودند که ناگهان دونفر با لباس شخصی (که بعداً فهمیدم از افراد امنیتی اند) روی ستیژ رفتند و ازمیان جماعت مست پایکوبان و دست افشان، مردی را که لباس عربی (دشداشه) به تن داشت، پائین آوردند و با خود بردند.

هرچه فکر کردم دلیل این عمل را نتوانستم در یابم. اگر نوشیدن شراب ورقصیدن گناه است، اکثر کسانیکه به نایت کلپ می آیند بخاطر ارتکاب همین گناه میآیند پس دلیل دستگیر کردن فقط یکنفر چیست؟

کسیکه با آئین این جماعت آشنائی بیش از من داشت، موضوع را روشن ساخت، به گفتهء او جرم شخص دستگیر شده این بود که با لباس عربی به رقص پرداخته بود! پرسیدم: مگر این کار چه مانعی دارد ؟ او درجواب گفت:

این لباس نشان هویت عربی است، لباس پیامبر(ص) است و به همین علت مقدس است و نباید با آن رقصید!!

واقعاً تعجب کردم. ازمردمی که به لباس پیامبر (ص) احترام میگزارند ولی کتاب الله و فرمان پیامبر(ص) را زیر پا میکنند!!

در رابطه با شیوخ ثروتمند امارات متحدهء عربی از چند سال به اینطرف رسوائی دیگری نیز بر سر زبانهاست و آن قاچاق طفل از پاکستان به امارات است.قبل از پرداختن به اصل موضوع تذکر این نکته لازمی است که در گذشته شتر با زندگی اعراب بادیه نشین پیوند حیاتی داشته است. شتر حیوانیست که تحمل گرمای شدید و بی آبی را دارد و به همین علت برای زندگی در صحرا مناسب ترین حیوان است. در آن روزگار که هنوز بوی نفت باعث جلب توجه کمپنی های غربی به سوی ریگستان های بی آب و علف جهان عرب نشده بود، برای قبایل چادرنشین جهان عرب شتر هم وسیلهء حمل و نقل بود و هم حیوانی که از گوشت و شیر آن تغذیه نموده و از پشم آن پارچه می بافتند ، و امروز که بادیه نشینان دیروز سوار بر موتر های آخرین مودل و مجهز به کولر، یخچال تلویزیون و تیلفون، مسیر هایی را که زمانی در چند روز طی میکردند اکنون در چند ساعت طی میکنند، هنوز هم تعلق خاطر خود را با شتر از دست نداده اند. با این تفاوت که اکنون تمام توجه به شتر بخاطر شرکت در مسابقات شتردوانی است که همه ساله در فصل معینی از سال در امارات برگذار میگردد.

برای تدویر این مسابقات یك دلیل شرعی وجود دارد و آن اینکه پیامبر (ص) مسابقات شتر دوانی را مجاز شمرده و شتر خود ایشان نیز در چنین مسابقات شرکت داشته است، ولی ثروتمندان امارات جواز شرعی دراین مورد را پوششی برای پنهان نمودن اعمال غیر شرعی از جمله شرط بندی قرار داده اند و قاچاق اطفال از پاکستان به امارات متحدهء عربی در رابطه با همین مسابقات صورت میگیرد.

قاچاقچیان طفل در بدل پرداخت مبلغی پول به خانواده های بی بضاعت اطفال آنانرا به امارات انتقال میدهند. طفل باید دارای چند شرط باشد: پسر باشد، سنش از پنج سال تجاوز ننماید، سبك وزن باشد.

شبکهء تلویزیون بین المللی بی بی سی درین اواخر راپور مستند و مفصلی را درین مورد به نشر سپرده است که شامل مصاحبه با قاچاقچیان طفل در پاکستان نیز بود .قاچاقچیان اعتراف کردند که این کار به کمك مقامات عالیرتبهء امارات صورت میگیرد و به مقامات پاکستانی نیز رشوه پرداخته میشود.

از این اطفال در ابتدا برای آماده ساختن شتر برای دویدن استفاده میشود طوریکه طفل را بر پشت شتر می بندند. طفل از ترس جیغ میکشد و گریه میکندو شتر هراسان رم میکند.

آماده ساختن شتر برای مسابقه به این ترتیب چندین هفته را دربر میگیرد. درین جریان تا کنون تعدادی از اطفال یا در اثر افتادن از پشت شتر جان سپرده اند و یا معیوب و دست وپاشکسته دوباره به خانواده های شان بازگردانیده شده اند.

در جریان این تمرین نه تنها شتر بلکه طفل نیز برای شرکت در مسابقهء شتر دوانی آماده میشود و بعداً در مسابقات شرکت مینماید اما برای این اطفال غذا بقدر کافی داده نمیشود تا مبادا چاق شده و به وزن شان افزوده گردد.

یك روانشناس پاکستانی که خود در امارات متحدهء عربی زندگی کرده و در این مورد تحقیقاتی را نیز انجام داده است ادعا دارد که بعضی از ثروتمندان عرب بیماری روانی دارند. آنها از وحشت اطفال بر پشت شتر احساس لذت میکنند و این لذت آنان زمانی به اوج میرسد که اطفال از ترس مرگ بشدت جیغ های پیهم میکشند

البته جایزه هایی که به شتران برندهء مسابقه داده میشود چشمگیر است. از موتر های گرانقیمت آخرین مودل گرفته تا پول نقد. ولی برای شیوخ ثروتمند جنبهء مادی جوایز، انگیزهء اصلی سهم گیری در مسابقه نیست بلکه مهمترین انگیزه رقابت میان این شیوخ است که در تلاش سبقت گرفتن از همدیگر اند.

آنها آرزو دارند که از طریق رسانه های گروهی پیروزی شتر آنان با عکس و تفصیلات به نشر برسد و از این کار احساس فخر و غرور می نمایند.

احساس غرور از پیروزی برای جناب شیخ با آن ثروت بی حسابش گران بدست نمی آید ولی برای آن خانوادهء فقیر پاکستانی که پارهء جگر خویش را از دست میدهد چطور؟

آیهء مبارکه(إن الانسان لیطغی ان راه استغنی) درین مورد مصداق عملی دارد.

زه د جیل له تورو کوټنو د، رته لیکم؟!

دپیښور له «سنټرل جیل» څخه د خپلی میرمنی په نامه د یوه عربی مجاهد لیك

زړه ته رانږدی او په بدو ورځو او تنهایو کی زمالملگری!

ښه پوهیږم که زه دلته په یوی ممجنی، بی ورسی، تپی تیاری چی دشپږتنو ملگرو پرته چی هغه هم زما په شان د خپلو کورنیو او دردوونکی راتلونکی په باب دفکر پرته بل څه نلری کوټی کی دغم په ټال کی ځنگیږم، تابه هم هره شیبه راز، راز ویری ویروی زه ددی بدی ورځی سره دتا دمخامخیدو عامل ځان گنم خوبیا هم په ژړغونی حالت کی درته سلامونه ډالی کوم.

گرانی میرمنی! په هماغه ورځ چی زه غرمی له کوره ووتم دکوره نږدی جومات خواته د تلو اراده می درلوده، زړه می غوښتل تاته ووایم خو ته په پخلنځای کی د څه پر پریمنځلو بوخته وی دورکوټی ابوعمار می مچه واخیسته او راووتم خو لاجومات ته نه وم رسیدلی چی دپولیسو یوی ډلی ودرولم پوښتنی راڅخه وکړی او بلآخره یی موټر ته واچولم ، ماډیری زاری ورته وکړی چی هاغه مخامخ می کور دی احوال خو ورکړم خو دوی اجازه رانکړه، دهغوی یوتن چی سپین ږیری ؤ ماته لږ با رحمه معلوم شو ور منډه می کړه: صیب! یوه میرمن او یو زوی لرم، دامخامخ می کور دی یواځی احوال به ورکړم... په لاس یی ټیل وهلم او په تنده لهجه یی ځواب راکړ... لری شه زه څه دربانډی وکړم... آخریی موټر کی سپور کړم او جیل ته یی راوستم او دادی زه اوس هم د جیل له تورو کوټنو درته لیکم، مادهماغه لومړی لحظی داکوشش وکړ چی په یونه یوه طریقه تاخبره کړم ، کله یی چی دلته راوستم زما په جوب کی دوه زره کلداری وی، دهغو پنځه سوه خو په هماغه لومړی ورځ یوه پولیس را څخه و شکولی ، موږ یی چی کوټی ته واچولو او پهره یی را باندی ودروله ، ماډیر کوښښ و کړ چی پهره دار په یو څه راضی کړم ترڅو تاته احوال در وړی، هغه ته می پته او پنځه سوه کلداری هم ور کړی خو هغه به هره ورځ دنن او سبا وعده کوله چی ترننه ای پته ونه لگیده، په همدی توگه دوه، دریو راڅخه پیسی واخیستی خو کار می پری و نشو، دلته دجیل په کوټه کی دتیاری او کونگتو پرته بل څه نشته او یونیم شی چی له پولیسو را غواړو که په لس کلداری وی پنځوس دوی پکی رشوت اخلی ددی پرته چی تر اوسه یی موږ نه یو پوښتلی چی په کوم تور راوستل شوی یو هره لحظه ډول، ډول روحی شکنجی راکول کیږی چاته وایی چی ته د مصر په تروریستی اعمالو کی دلاس لرنی په تور نیول شوی یی؟ او چاته وائی چی تا په امریکا کښی د بم د چاودنی کی لاس درلود؟ او؟؟ داهغه روحی شکنجی دی چی موږ پری هره لحظه ویلی کوی خو زه ددی ټولو سره سره دځان په باب نه دتا او دخپل گران زوی په باب اندیښمن یم ، ښایی ته هم له اقتصادی مشکل سره مخ وی ځکه چی دکور پته خو ماته شته، کولی شی ددی لیك ددرووړونکی په وسیله یخچال، ارکندیشن، جامو پریمنځلو ماشین تلویزیون او نور سامان خرڅ کړی او پر پیسو یی تر یوه وخته گذاره وکړی نپوهیږم چی په یواځی ځان شپی ورځی څنگه سبا کوی، که کیدای شی ابو عبدالله ابو عبدالرحمن او ابو حارث دوی کورته ورشه او دهغو سره یو ځای اوسیږه ځکه زموږ سرنوشت نه دی معلوم چی څه به کیږی خیر! خدای به خیر کړی، تا څخه لری والی او د ابو عمار یا دمی هره لحظه په سترگو داوښکو رودونه روانوی ، ابو عمار ډیر شوخ ؤ هیله ده لاس پری پورته نکړی، باور لرم چی دا جمله به ستا په سترگو کی اوښکی راوخوټوی خوزه هم همدا اوس په سلگو یم، هیله ده لږی پیسی هم راولیږی او دیوه لیك په واسطه می له حال هم خبر کړی په بخښونکی خدای دی سپارم.

والسلام ابو خالد

وروستی کتل!؟

دکابل ښار دیوغم ځپلی ښاری دردوونکی کیسه

هغه کیسه کوله خو ډیره په احساساتو او تندی لهجی سره:

-بس هماغه چی وایی هوښیاره مرغی په دوو لومو کی نښلی پر ماهمدا کانه وشوه.

-ډیرودوستانو راته وویل چی دی خوا مه ځه او که ځی هم موټر مه درسره بیایه خوما دوه پښی په یوی موزی کی کړی چی کار ضرور دی حرکت می وکړ خو چی پل آرتل ته ورسیدم دحزب وحدت مسؤلینو لاس راکړ، دوه تنه وسله وال کسان یی راسره کړل، او راته وی ویل داهم تر کارته سه درسره ورسوه ماچی بله چاره نلرله مجبور وم حرکت می ور سره و کړچی کارته سه ته ورسیدم، موټریی را باندی یوه زراعتی کوپراتیف ته ننه ایست، ماته یی وویل:«...کاغذای موتره بتی...» کاغذونه می ورکړل، په هغو کی شل زره افغانی هم وی، هغه یی هم واخیستی او دوه زره افغانی یی ماته بیرته راکړی او راته وی ویل:«...میتانی تاخانه برسی...» ماچی داموقع هم غنیمت گڼله خوله می ورته جینگه کړه:« .... خوب صاحب! مه رفتم...» په لار کی می چورت واهه چی کورکی به تره ته څه وایم، ټول به راته وایی بی غیرته موټر دی ولی ورته پریښود خو چی کورته راورسیدم او داکیسه می ورته وکړه ټولو راته په غبرگ آواز وویل: موټر پسی بلا ورپسی چی ته یی ژوندی پری ایښی یی، خو ماکله موټر په دومره آسانی ورته پریښودي شو، نو چی چیرته می یار او دوست ؤ هغه می خبر کړ ترڅو دموټر په خلاصی کی راسره مرسته وکړی، دهغوی په وسیله می دمحسنی دروازه هم و ټکوله د مزاری هم، مزاری ته می ډیری منډی رامنډی وکړی آخر یی دحزب وحدت یو غړی راسره کړ ترڅو هغه ځای چی موټر پکی دریدلی و وگوری، هغه ته می دموټرنومره هم ورکړه او نوری نښی هم، زراعتی کوپراتیف می ورته له لری وښود او زه تری راستون شوم ، دی دیوه ملگری په پلمه هلته ورغی چی بیرته راستون شو کیسه یی کوله چی موټر یی ولید، زه یی بیا دځان سره کړم او دمزاری دفتر خواته روان شو، په زړه کی می کرل ریبل چی که خدای کول موټر به بیرته لاس ته راوړم، په لار کی می د حزب وحدت غړی ته هم زیاته غوړه مالی کوله:«... نام شماره امی مردم بد میکنه....» هغه به هم په کبر سر راته و ښوراوه او نور څه به یی نه ویل ، دفتر ته فاصله پاتی وه چی ما ورته وویل« ... اگه موتر خلاص شد خود ته هم شرینی میتم...» خو هغه راته په خندا وویل:« ... به شرینی خلاص نه میشی، به مه ده لك افغانی باید بتی اگنی مه مزاری صاحبه میگم که موتر نه بود...» ډیری زاری می ورته وکړی:«.. یك چیزی کم کن...» خو هیڅ له خپلی خبری

(۵) مخ

کوماندوهای ایرانی درافغانستان می جنگند

قرار اطلاعات موثقی که به دفتر جریده‌ء اتحاد رسیده است در جنگهای اخیر ملیشه های حزب وحدت علیه مجاهدین اتحاد اسلامی که در شب های عید صورت گرفت ، سه صد تن کوماندوی ایرانی شرکت داشتند .

این کوماندوهااز منطقه یی بر گزیده شده اند که نزدیك سرحدات افغانستان بوده ومردم آن از نگاه شکل و قیافه با هزاره های افغانستان شباهت زیادی دارند .

همچنان اطلاعاتی در دست است که ایرانی ها با چاکران شان در حزب وحدت جلساتی در ایران داشته وتصمیم گرفته اند که در آینده‌ء نزدیك حمله‌ء شدیدی را علیه مخالفین حزب وحدت براه اندازند تا ثابت سازند که هزاره های افغانستان دیگر هزاره های دوره‌ء عبدالرحمن خان نیستند .

این دوخبر که از موثق ترین منابع بدست آمده است ، نشاندهنده‌ء آنست که حکام ماجراجوی ایران در صدد آن اند که نگذارند امن و استقرار در افغانستان قایم گردد و می خواهند این کشورا را به لبنان دیگری تبدیل کنند واین حرکات غیر اسلامی و دخالت غیرانسانی ایرانیها درافغانستان ممثل نیت شوم و اهداف استعماری حکام ایران در مورد کشورما است .

جمهوری باصطلاح اسلامی ایران در دوران جهاد تاریخساز ملت مجاهد افغان علیه روسها با موقف گیری های چند پهلو و منافقانه وخصمانه ثابت ساخته است که برای ایران قیام حکومت اسلامی در افغانستان که طبعا زمام آن در دست اهل سنت می باشد ، غیر قابل قبول است و حکام فاشیست ایران ترجیح می دهند که عوض حکومت اسلامی هر حکومت کفری چه کمونست باشد و چه غربگرا و چه متشکل ازهر دو وسائر نیروهای الحادی در افغانستان قایم گردد و یا اگر چنین نشد هرگز امن و آرامش در این کشور جنگ زده باز نگردد تا ایرانیها بتوانند از خطر یك حکومت اسلامی نیرومند در پهلوی خود در امان بمانند و از آب گل آلود ماهی بگیرند .

این درست است که هزاره ها دیگر هزاره های دوران عبدالرحمن خان نیستند و هزاره های مبارز و آزاده همچون سائراقشار ملت مسلمان افغانستان در جهان سهیم بوده و مسئوولیت خودرا در بیرون راندن متجاوزان روسی از کشور ادا کرده اند و باید به ایشان حقی را که مستحق آنند داده شود ، ولی ایرانیها باید بدانند که گروهك مزدور حزب وحدت تنها میتواند از مزدوران ایران مانند مزاری و دار و دسته اش و ملیشه های کشتمند نمایندگی کند و نه از ملیت مظلوم و مبارز هزاره واین راهم باید بدانند که ملت مسلمان افغان در مجموع چه پشتون چه تاجیك چه هزاره و چه ازبك ، چه سنی و چه شیعه ، ملت دیروز نیست که فریب دسائس استعمار گران و منافقانی را بخورد که لباس اسلام را در بر کرده اند ولی در حقیقت شیطان اند . این ملت همچنانکه در گذشته های دور و در گذشته ء نزدیك سلطه‌ء اجانب را نپذیرفته است و با کمال قوت دست رد به سینه‌ء مزدوران بیگانه زده است ، سلطه‌ء وزورگویی ایرانیها را نیز نخواهد پذیرفت و دسائس ایشان را خنثی خواهد کرد و مزدورانی همچون مزاری را به همان سرنوشتی دچار خواهد کرد که شاه شجاع و تره کی و امین و ببرك و نجیب را .

ایرانیها و چاکران شان اگرعقلی دارند از حقائق تاریخی دور و نزدیك افغانستان پند بگیرند ورنه باید بدانند که نه ایران قویتر از امپراطوری اتحاد شوروی است و نه مزاری نیرومند از تره کی و امین و ببرك و نجیب .

رئیس اداره، ائتلافی و صدراعظم...

اداره، ائتلافی...

جالب اینجاست که استاد ربانی در هر شماره، شهادت رئیس اداره، ائتلافی نیست بلکه در بعضی از شماره های شهادت، وی را با احترام رئیس دولت اسلامی نیز یاد میکنند ودر عین شماره، شهادت در یك خبر یا تبصره، دولت کابل اداره، ائتلافی است و در خبر دیگر دولت اسلامی!! از این معلوم میشود که دادن عنوان اداره، ائتلافی به دولت کابل، به برخاستن گردانند گان 'شهادت از پهلوی راست یا چپ مربوط است.

سوال اینجاست که اگر استاد ربانی رئیس اداره، ائتلافی است، پس حکمتیار چگونه خود را صدراعظم حکومت اسلامی میخواند؟ اگر در کابل اداره، ائتلافی با کمونیست ها بر سر اقتدار است، پس پذیرش استاد ربانی برای یکنیم سال از طرف حزب بعنوان رئیس جمهور چه معنی جز برسمیت شناختن همین بقول حزب(اداره، ائتلافی) دارد؟

یکی از سخنگویان حزب در مصاحبه با بی بی سی مدعی شد که حزب با جمعیت اختلافی ندارد بلکه در داخل جمعیت یك گروه کوچك خواهان جنگ با حزب بوده و همین گروه با ائتلاف با کمونیست ها با حزب درگیر جنگ است.

منظور سخنگوی حزب از این گروه کوچك بدون تردید شورای نظار است اما اینکه احمد شاه مسعود عضو کمسیونی است که باید بر امور وزارت دفاع سرپرستی نماید و حکمتیار نیز این کمیسیون را به رسمیت شناخته است و حتی بصراحت از طریق رسانه های گروهی اعلام نموده است که با مسعود هیچگونه خصومت و دشمنی ندارد. این اظهارات ضد ونقیض سخنگویان حزب را چگونه میتوان توجیه کرد جز اینکه بگوئیم آقایان گاهی از پهلوی چپ برمیخیزند و زمانی از پهلوی راست؟!

امید است امارت حزب اسلامی از این ببعد بر نوشته های شهادت نظارت نماید و با جلوگیری از اینگونه تناقض گویی ها موضع گیری های سیاسی خود را زیر سؤال نبرده و به تقویت روحیه، بدبینی کمك نکند.

لیبرال - تکنوکراتان او د هغوی...

تر شا ولاړ دی او غواړی چی دوی په زوره په ملی مسایلو کی مطرح کړی. دوی لا له پخوا جوړ شوی کسان او په نوم رهبران هم لری هغوی هم د اوضاع او حالاتو له نزاکتونو سره سم د مجاهدینو له مشرانو سره د مجاهدو مشرانو په صفت کینی ، مصوبی او فیصلی ورسره امضا کوی٬خو د نفاذ پر وخت یی یا انگلستان ته ځی ، یا خو ډنمارك او امریکا ته او له هغه ځایه د خپلو ملگرو سره آواز غبرگوی چی: « لویه جرگه او لویه جرگه ...» هغوی فقط د هماغی ورځی انتظار وباسی چی په فکری او سیاسی لحاظ واقعا اسلامی تنظیمونه د نفاق او ځان ځانی په اور کی ښه لولپه شی بیا به نو دوی دخپل سوپرچیف(super chif) په سر پرستی د افغانستان واگی په لاس کی نیسی او که داسی نه وی نو دا څه معنی لری چی په دغسی ویرجنو حالاتو کی چی له هره پلوه د اسلام او اسلامی انقلاب دښمنانو زموږ د انقلاب ناکامی ته لاسونه غزولی او تر یوه حده بری ته هم رسیدلی دی دوی خپل ملت یواځی پریږدی په تعمیری کارونو کی له وندی اخیستلو نه ډډه کوی او له شلم یا پنځه ویشتم هیواد نه د لویی جرگی چیغی وهی. . .

ایا د مجاهدینو مشران د ملت نماینده گان نه دی ؟ آیا دوی په کومه لویه جرگه کی برخه نه دی لرلی ؟ ایا د افغانستان د کشالی د حلولو لپاره داسی غونډی او جرگی نه دی جوړی شوی؟ که دوی ددغو جرگو لپاره دا بهانه نیسی چی غربیان یا غرب ځپلی په دی جرگو کی برخه نه لری په دی اساس دی غونډو ته لویه جرگه نه شی ویل کیدای نو موږ ورته وایو : هغه کسان چی په ستونځو کی ددی ملت لاس نیوی نه دی کړی ملت پری اعتماد نه شی کولای او نه د هغوی قیمومیت او سرپرستی منی او نه یی دی ته پریږدی چی د برخلیك د ټاکلو لپاره یی په جرگو او غونډو کی گډون وکړی- بناء دا ډنډوری ټولی بی ځایه او بی هوده دی او پرته له دی چی روانی خبری سبوتاژ کړی بل هدف نه لری . . . . . .

ورانی خلی او ړنگ...

نړیوالو د ظلمونو او وحشتونو غرونه راښکته کوی ، نو حتما به په خپله یی پر ځان لعنت ویلی وای ! ! !

سبی ده چی له امریکا سره ډیری پراخی زرخیزی مځکی شته او ښه پریمانه معدنی ذخایر هم لری خو سره له دی هم که د نورو ملتونو اقتصاد لوټ نه کړی نه شی کولای په برندو او ړدو سترگو چا ته وگوری او نن له هغه سره دا جرئت پیدا شی چی پر ټوله نړی باندی د خپل استعمار او وسعت غوښتنی جال وغوړوی. . . .

ددی ستری فتنی په ځنگ ځنگ کی اسلامی نړی ته خورا زیات تاوانونه واوښتل ، د مسلمانانو دویم مقدس مقام (القدس) د یهودانو په ولکه کی راغی ، عثمانی خلافت منحل شو په اروپایی هیوادو کی پر مسلمانو لړ کیو باندی سخت ظلمونه او تیری وشول په مرکزی اسیا کی د مستبد او سفاك استالین په اشاره د جبری مهاجرتونو په ترڅ کی په زرهاوو تنه مسلمانان له منځه ولاړل . . برسیره پردی روسی کمونیزم ته دا فرصت په لاس ورغی چی خپل گاونډی لوی او کوچنی هیوادونه ښکیل کړی او د خپلی خوښی استبدادی حکومتونه په کی جوړ کړی . . . . .

څلورم لوی توپان هغه وخت را ولاړ شو چی د دویمی نړیوالی جگړی له پای نه (۳۳) کاله وروسته روسانو پر افغانستان باندی نظامی یرغل وکړ . . . . روسانو غوښتل چی پر افغانستان باندی د یرغل په ځنگ کی لاندینی اهدافو ته خان ورسوی :

۱- په افغانستان کی د خپلی خوښی نظام په واقعی معنی سره پلی کړی او له ارزښتونو څخه یی دفاع وکړی ، هلته ددوی په اصطلاح انقلاب ضد عناصر وټکوی او جرړی یی وباسی (اسلامی نهضت په ټول قوت سره له منځه یوسی تر څو په راتلونکی کی دوی ته سرخوږی پیدا نه کړی او په گاونډیو هیوادو کی یی د نفوذ له کبله کمونیزم ته یو بل حریف پیدا نه شی)

۲- برسیره پردی چی د افغانستان طبیعی گاز په مفته کی وړی ددی هیواد نور طبیعی منابع هم خپل کړی او په هغو ټولو لاس نه خوړلیو طبیعی منابعو ، معدنونو او نورو شتمنیو باندی خیته واچوی چی تر اوسه پوری د عیاشو شاهانو د عیاشیو او بی بندوباریو په وجه هیڅ توجه ورته نه ده شوی.

۳- د هند سمندر تودو اوبو ته ځان ورسوی او له هغی لاری له نورو زبر ځواکونو سره بحری رقابت او پر هغوی باندی برلاسی ولری او خلیج ته هم ځان په اسانه ورسوی . . . .

خو د روسانو د انگیرنی پر خلاف افغان مؤمن ملت ددوی ددغه وحشیانه او شوم تاړاك په وړاندی په دومره قوت ، شهامت ، متانت او ثبات سره ودریدل چی د هغوی ټولی آرزوگانی له خاورو سره خاوری شوی او په شرمیدلی ماتی سره یې ۱۳۶۸ کال کی له افغانستان څخه یی خپل مات گوډ پوځونه وایستل او له دی ماتی سره جوخت د روسیی امپراتوری په ایوانو کی هم د ماتی زلزله گډه شوه او په ډیره لږه موده کی یی د خپل زبرځواکی هغه اوصاف له لاسه ورکړل چی حساب پری کیده ، د هغی مستعمری ټولی خپلی ازادی ته ورسیدی . لکه څرنگه چی د چنگیزی لښکرو په لوټمار ، حملو او تاړاکونو کی د خراسان له غربی سیمونه د سند تر سواحلو ټولی ابادی ورانی ویجاړی او په کنډوالو بدلی شوی وی ، په اوسنی افغانستان باندی هم د روسانو د وحشیانه حملو په نتیجه کی له تورخمه ترحیرتانه او اسلام قلعی پوری ټولی کلی او کورونه کنډوالی شوی . . . او په هره سیمه کی ورانی څلی او ړنگ یادگارونه پاتی شول :خو دی ورانو څلو هر یو :

الف : د افغان مجاهدینو د بی ساری سرښندنی او جدوجهد داستانونه له ځانه سره لری.

ب : د کونډو ، یورو او یتیمانو د خواشینیو٬نه هیریدونکی مجسم اثار دی .

ج : زموږ راتلونکی نسلونو ته د شهامت او عبرت نه هیریدونکی درسونه.

هو ! ددی ورانو څلو او ړنگو یادگارونو په ځنگ کی چی یو بل خورا په زړه پوری یادگار د نړیوالو توجه ځان ته راکاږی او هغوی ته عملا دا ښیی چی کمونیزم په څه ډول په افغانستان کی ښخ شو او بشریت د تل لپاره د هغه له شره خلاص شو د روسانو هغه جنگی وسایط او ابزار دی چی په کلیو ، بانډو ، ښارونو، دښتو ، میرو او د سړکونو تر غاړو وران ویجاړ پراته دی ، رښتیا چی دا یادگارونه په ټولنه او تاریخ کی د هغومره ارزښت وړ دی لکه چی زموږ د مومن ولس بی دریغه قربانی او مقاومتونه . . .

خو په ډیر تاسف سره باید ووایم چی زموږ خپل منځ کی زموږ د جهادی مواریثو او تاریخی اثارو غله او داړه ماران پیدا شوی او دا یادگارونه داسی ورانوی لکه چی د نړیوال استعمار لمسه وریسی وی او هره شیبه وایی چی : « دا د مومنو افغانانو د جهاد او پرتم څلی ورانی کړی ، مه پریږدی چی نور ملتونه د یوه ژوندی فرهنگ په توگه عبرت تری واخلی او گټه یی نورو نړیوالو ته ورسیږی ! »

وروستی...

راتیټ نشو، ما ورسره و منله او ژمنه می ورسره وکړه چی سبا به هغه صورت کی چی دمزاری صیب دی پردی پوستی راته خط واخیست لس لکه افغانی درکړم، هغه په ډیر غرور راته وویل:« ... خط خو همی حاله میگرم موتره برت خلاص میکنم... » خط یی په رښتیا هماغه ورځ راته واخیست، او ماته یی وویل چی سبا به لس لکه افغانی هم راوړی زه به هم در سره لاړ شم بیا به موټر را خلاص کړو، ترسباماته خمکی ځای نه راکاوه، دیوه بل ملگری اوخپلوان می لس لکه افغانی پیدا کړی او په سبا یی دوعدی سره سم ټاکلی ځای ته ورغلم، دوحدت حزب غړی چی « قربان علی» یی خپل نوم راته وښود، په ورین تندی استقبال کړم، مالس لکه افغانی ورکړی او هغه مخکی شو او زه وریسی، دکوپراتیف څخه لری زه ودرولم او دی ورغی، یوساعت وروسته بیرته راستون شو ماچی دلری ولید هیڅ هم ور سره نشته سخت غمجن شوم دی زما خواته او زه دده خواته ور روان شوم چی راورسید راته وی ویل:« ... موټر نه بود مگر وعده کد که سبا خودش بیایه امرای همی خط موتر بریش میتم».

څه به مو سر خوږوم مابیا په داسی حال کی چی دچورتونو او غمونو په ټال کی ټالی وهلی د کور خواته حرکت وکړ بیا دوستانو په یویل نامه داډه کولم چی انشاء الله موټر به دی خلاص شی اوس کار ترډیره حده شوی، ژمنه یی درسره کړی، زه بیا څوورځی پرله پسی زراعتی کوپراتیف ته ورغلم ، هرځل یی په یوپلمه رارخصت کړم، په دی څو ورځو کی می دموټر مخ هم ونه لید خو په وروستی ورځ چی ورغلم لیدل می چی موټر دکوپراتیف مخکی ته دریدلی او دروازی یی بندی دی، هیڅوك ورسره نه ؤ ماډیر ورته وکتل که څه هم موټر می واك کی نه ؤ

(۶)مخ

د سر مقاله پاتې

مجاهدینو هر ډول یووالی سبوتاژ کړی ، ددغسی مغرضانه توطیواو دسیسو د شنډولو لپاره تر هر وخت زیات همدا اوس د مجاهدینو یووالی ته ضرورت دی او دایووالی تر هغه وخته نشی متحقق کیدلای څو د وخت د خورا ستر ضرورت په توګه دایمی اوربنداعلان نشی او د هغه په رڼاکی مسایل او قضایا حل او فصل نشی ...

ج : موږ پخواهم ویلی ووچی : « پردی عناصراوکله هم با درده لاکن بی خبره افغانان وایی چی :

دا مشران سره نه جوړیږی ، نو ملت باید تصمیم ونیسی موږ وایو چی ملت له خپلو مشرانو نه هیڅ کله نه بیلیږی او دا ملت خپل مشران ښه پیژنی چی په ډیرو سختو شرایطو کی له دوی سره وو مګر پردی عناصر په هماغسی سختو حالاتو کی وتښتیدل او دا ملت یی یواځی پریښود - دوی باید د ازادی جنګ په دوران کی هم داخبره کړی وای چی دا جنګ یواځی د مجاهدینو کار نه دی بلکی موږ هم باید ونده په کی واخلو موږ په دی عقیده یو چی مجاهدین ددی ولس اصلی بچیان او وارثان دی او موجوده ستونځی دښمنانو په کی پیدا کړی دی - بناء هره تاکونکی فیصله چی صورت نیسی نو ښایی چی همدغه مجاهد مشران په کی محوری حیثیت ولری ...»

د : د افغانستان اسلامی اتحاد هیله من دی چی وروستی اوربند په یوه دایمی اوربند بدل شی او موجودی کشالی او ستونځی ټولی د همدغه اوربند په رڼاکی حل او فصل شی او څوك چی نه غواړی د مجاهدینو په منځ کی سوله ، وحدت ، ورورګلوی ، پیروزینه او ایثار رامنځ ته شی هغه به تل دا زیار باسی چی دسولی پروسه زیانمنه کړی او دی په کی خپلی ګټی تامینی کړی - موږ ددغسی افرادو ، ډلو او ډلګیو پر خلاف یو ، غندویی او څیری یی ملت او نړیوالوته بر بنډوو ...

از غارت سفارت...

باقی ماند ولی بعضاً افراد جدید بکار گماشته شدند و دست بعضی ها از کار گرفته شد که درین اواخر برادر او نیز از پست مسئولیت سفارت انگلستان سبکدوش و شخص دیگری بعوض اومقرر گردید ولی برادر نخستین زمامدار دولت اسلامی که ادعا دارد سلسلهء ولایت و کرامت در خاندان شان قطع نشده است بر خلاف آن پرچمی همه دارایی های سفارت را به غارت برد و از مجموع بیش از صد هزار دالر حساب سفارت در بانك فقط چهل پنج دالر را آنهم بخاطر اینکه اکاونت یا حساب بسته نشود ، باقی گذاشت و متباقی را به غارت برد !!

هنوز یك هفته از سبکدوشی او نگذشته بود که طی اجلاس جلال آباد و توافق بر تشکیل کابینهء جدید بازهم برادرش اورا به یکی از دو سهم داده شده به تنظیم خویش یعنی وزارت هوانوردی ملکی معرفی نمود و بدین ترتیب بلا فاصله پس از غارت سفارت به مسند وزارت دست یافت !! اکنون دیده شود که در پست جدید یعنی وزارت به غارت چه چیزی می پردازد ؟ بودجه یا طیاره ؟!

مذاکرات وزارای خارجهء کشورهای ترکیه ، ایران وسوریه در تهران

وزرای خارجه کشورهای ایران سوریه وترکیه در تهران گردهم آمده اند تا در بارهء مشکل کردها باهم مذاکره کنند .

بدنبال شکست عراق در جنگ با غرب و بوجود آمدن مناطق امن از طرف غرب برای کردها در شمال عراق سازمانهای سیاسی کرد به ایجاد منطقهء خود مختاری درین ناحیه موفق شده اند .

ایجاد چنین منطقهء خود مختار موجب تشویش کشورهای یاد شده است که هر کدام در داخل کشور خویش اقلیت کرد دارند .

آرزوی یك کردستان بزرگ و مستقل در میان کردها با شکست وضعف عراق کسب شدت نموده و بعضی از گروه های کرد مخالف ترکیه نیز باعساکر ترك درگیری های خونین داشته اند .

د ملګرو ملتو د امنیت شورا...

کړی چی ضرورت ورته لیدل کیږی .

پاکستانی پوځیانو باندی د شنبی په ورځ هغه وخت حمله وشوه کله چی غوښتل یی د رادیومرکز تلاشی کړی په حملی کی له ۲۰ زیات پاکستانی پوځیان ووژل شول او ۵۰ تنه ټپیان شول همدارنګه جنرال عدید ددی حملی پړه پر پاکستانی پوځیانو وراچولی اوویلی یی دی چی ۷۵ تنه صومالیایان پکی وژل شوی هغه خپلو افرادوته غږکړی چی د ملګرو ملتو پوځ سره مرسته ونکړی .

د بلی خوا د پاکستان په پارلمان کی د جماعت اسلامی پارلمانی ویاند پر حکومت غږ کړی چی صومالیا او هغواسلامی هیوادونو ته چی خپل منځی شخړی پکی روانی دی د لیږل شویو پاکستانی پوځیانو پرتګ باید له سره غورو کړی که څه هم چی بهرنیو چارو کی د دولت وزیر د حکومت له موقف نه دفاع کړی خو د پارلمان ویاند هم ویلی چی باید حکومت په دی برخه کی پارلمان جریان کی واچوی .

هیئت کمسیون صلح بریاست...

حرکت بسوی کابل در جواب این سوال که انگیزهء این سفر وی چیست ؟گفت که با وجود موافقتنامهء جلال آباد هنوز هم فضای تفاهم کامل بین طرفین بوجود نیامده است و به همین علت نخستین جلسهء کابینه بدون حضور بعضی از وزرا برگذار گردید برای ایجاد تفاهم بیشتر به مذاکرات بیشتر و مخصوصا به دیدار رویا روی میان احمد شاه مسعود و گلبدین حکمتیار ضرورت است تا به این وسیله از تکرار یك جنگ دیگر جلوگیری بعمل آمده و زمینه برای تفاهم بیشتر آماده گردد .

فاروق اعظم گفت که هر دو طرف به این نتیجه رسیده اند که جنگ جز ویرانی و بدبختی بیشتر هیچ نتیجه یی ندارد و باید مشکلات را از راه تفاهم ومذاکره حل کنند و به همین علت وی به موفقیت ماموریت خویش امیدوار است .

هجوم مهاجرین...

شده است این مسافرین بعداز رسیدن به تاشکند از راه زمینی عازم ماسکو میشوند و قرار اطلاع سازمان ملل متحد دفتری برای این مهاجرین در ماسکو گشوده است .

لازم به تذکر است که ازبکستان از مدتی به اینطرف بعلت هجوم مهاجرین بسوی تاشکند سرحد زمینی خود باافغانستان را بسته است که این مسئله نیز موجب هجوم بیشتر مهاجرین به پاکستان غرض رفتن به ماسکو شده است .

یکی از کسانی که عازم رفتن به ماسکو است در حالیکه سخت متاثر بود اینعمل خودرا چنین توجیه میکرد :

ما سالها در انتظار استقرار حکومت مجاهدین روز شمارمی نمودیم ولی با کمال تاسف اکنون نا چاریم به ماسکو برویم زیرا خانهء ما در کابل ویران و دار وندار مابه تاراج رفته است و اگر چند ماه دیگر در پاکستان بمانیم مبلغی پول که نزد ما باقی مانده آنهم تمام خواهد شد .

د بنګله دیش پخوانی ...

اوویل کیږی چی دا پیسی د قدرت دبی ځایه استفادی او فشار له لاری لاس ته راغلی .

پر هغه د۳۵تنو شاهدانو وینااوی تر شپږو میاشتو واورول شوی د هغه پر یوه سکرتراو متقاعدجنرال هم د لس کروړ روپوتوردی ددوی سربیره په دی دوسیه کی ۲۰ تنه نورهم تورن دی چی یو تن یی برائت لاس ته راوړی .

جنرال ارشاد په ۱۹۹۰ کال کی له قدرت ګوښه کړای شو .

پرون خلقیان...

مشکوك کسان لټوی ؟!!

هو ! نور نو د لویو لارو په غاړو کی خلقیان او پرچمیان نه وو بلکی د هغوی پرورانو پوستو باندی خیمی درولی شوی وی او ځایونه یی مجاهدینو نیولی وه - که پرون خلقیانو خلك ځورول--نن مجاهدین د هغوی میراث ترلاسه کړی - او چی څرنګه مو خلك پخوا فضیحت کیدل اوس هم هماغه ډول فضیحت کیږی - فضا نه ده بدله شوی بلکی داسی خړه پړه ده چی د ټولو له څیرونه د ماتمونو او ویرونو اثار له ورایه ښکاریږی ....

وروستی...

شوی خوبیا می هم په هغه بنی اړخ چی ټکر کړی ؤ لاس راکش کړ او بی اختیاره می له خولی تك، تك ووتل دموټر مینځ ته می چی وروکتل زیات شمیر بوتل پکی پراته ؤ ټول له اوبوډوله شیانو ډك ؤ، زه لړ نورهم ورته ځیر شوم پرشیشی می نوری هم سترګی ورټیټی کړی خو په ورټیټیدو سره می دشرابو بوتند بوی پزه وتخنوله ، زر رابیرته شوم په همدی ساعت کی وسله وال کسان راووتل ، زما هیڅ پروایی ونه کړه، خپل یوه ملګری ته یی وویل:« ... ده بوتل تاکو...» هغوی چی بوتل کوز کړل، زه ور مخکی شوم، خط می ورکړ، هغه چی له خولی یی دشرابو لوخړی پورته کیدی خط یی وغورځاوه:« ... برو دیګه اینجه ایستاد نشی....» ماورته ډیری زاری وکړی« ... صیب شماګفتین، صبح بیا...» خو هغوی هیڅ پروا ونه ساتله زه یی له غوږونیولم:« ... اګه دیګه اینجه آمدی ازخانه خداحافظی کده بیا...» د وروستی ځل لپاره می دموټر خواته خړ، خړ وروکتل خپله لار می ونیوله اوبیا نه هغی خواته لاړم او نه می موټر ولید.

هفته نامهء
اتحاد اسلامی
بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: اتحاد اسلامی افغانستان
سال تأسیس:عقرب ۱۳٦٤ هـ ش
ناشر: بخش فرهنگی ریاست دعوت و ارشاد
آدرس: کابل - وزیر اکبرخان مینه - روبروی مسجد جامع
آدرس پستی در پشاور:
G.P.O Box (786)
PESHAWAR -PAKISTAN